عبدالباري جهاني ٩/۴/٢٠١٢

# له جنګ څخه تر جنايت پوري

١٩٩١

په دې وروستيو شپو ورځو کي د کابل پر بيګناه خلکو باندي د راکټونو باران دی. د کابل حکومت د روان کال د آګسټ د مياشتي پر پنځه لسمه په يوه رپوټ کي وويل چې مجاهدينو تيره ورځ پر کابل باندي د راکټونو يوه سخته حمله وکړه، ديرش تنه يې ووژل او څه د پاسه سل تنه يې ټپيان کړل. د کابل راډيو په دې څو کالو کي هر وخت دغه راز رپوټونه خپاره کړي دي خوکله چې به له مجاهدينو څخه پوښتنه وسوه نو هغوی به وويل چې دا راکټونه اصلا د کابل حکومت پخپله واروي او غواړي په دې توګه مجاهدين بد نام کړي.

خو دا ځل، د پخوا په خلاف، د کابل د شاوخوا سيمو د عملياتو مشور قوماندان عبدالحق د اسوشييټيډ پريس خبري اژانس سره په يوه مرکه کي په خورا بې پروايی اعتراف وکړ چي بلې دا راکټونه مجاهدينو اورولي دي ځکه چی يوه هغته مخکي د کابل حکومت د وردګو پر ولايت باندي بې رحمانه بمباري کړې او ډير زيات بيګناه خلک يې وژلي دي. يعني د کابل بيګناه ښاريان بايد د کابل د حکومت د اعمالو سزا ووينې.

د ښاغلي عبدالحق دې عمل ته که هرڅوک هر نوم ورکوي ورکوي به يې خو د انسانيت په قانون کي يې جنايت بولي. د کابل پر بيګناه ښاريانو باندي د څو کالو راهيسي د راکټونو حملې رواني دي او په يوه وروستی حمله کي ، چي د فبروري د مياشتي پر نهه ويشتمه وسوه، د کابل د ښار د شهزاده په سرای کي يی دوه ديرش تنه ووژل، او د يوه رپوټ په حواله، څه د پاسه دوه سوه تنه يی ټپيان کړل. که دا کار د کابل د حکومت يوه جنرال کړی وای نو موږ به حتما هغه ته د بيګناه خلکو قاتل او جنايتکار وايه خو عبدالحق او د ده په شان نورو کسانو ته اوس هم د مجاهدينو محترم قوماندانان او مشران ويل کيږی. او حتی د مجاهدينو د موقتي حکومت يوه وزير د يوې امريکايی ورځپاڼي سره په مرکې کي د خپلی معرفی په ترڅ کي د هغه په خپلوي افتخار کړی وو.

دا چي عبدالحق او د هغه مشران او انډيوالان ولي پر کابل باندي حملې کوي علت يې څرګند دی او هغه دا چي دوی د جنګ په ميدان کي د حکومتي قواوو په مقابل کي ماتي وخوړې، په حکومتي قواوو يې زور نه رسيږي، حکومت په زور نه سي چپه کولای. نړی وال او د افغانستان خلک ټول د سولي چيغي وهي او جنګ غندي. د دوی لپاره لا تر ټولو بده خبره دا ده چي پاکستان هم، لږ ترلږه په ظاهره، د ملګرو ملتونو او د افغانستان د خلکو ترڅنګ دريدلی او د ملګرو ملتونو د سولي پلان يې تاييد کړی دی. د مجاهدينو مشران او قوماندانان اوس مجبور دي چي خپل کسات د کابل له بيګناه خلکو څخه واخلي. دوی نا اميده دي، لار ورڅخه ورکه ده او بله چاره نه لري. دوی نه جنګ وګاټه او نه په انتخاباتو کي د بري تمه ورته پاته ده ځکه چي دوی د کابل د حکومت په مقابل کي يو کانديد نه سي مخته کولای او اتفاق يی غير ممکن دی. دوی ته يوازي يوه لاره پاته ده او هغه، د پرديو په لمسه، د کابل پر بيګناه خلکو باندي د راکټونو باران دی.

که څه هم چي د مجاهدينو له مشرانو سره هيڅ وخت، د ريښتونو افغانانو په څير، د کابل او نورو ښارونو او يا د هغوی د اوسيدونکو غم موجود نه وو. د مجاهدينو په لاس، د کنړ، کندوز، تيرنيکوټ، خوست او نورو کوچنيو ښارونو او اولسواليو فتح کيدلو وښودله چي دوی ښارونه يوازي د چور او چپاو لپاره فتح کوي. د مجاهدينو لوی مشران ټول افغانستان ملک مفتوحه بولي او مال يې مجاهدينو ته حلال ګڼي. دوی د کابل ټولي ښځي او په تيره بيا د ښوونځيو او پوهنځيو زده کونکي خلقياني او پرچمياني بولي. که دوی چيري، خدای مه کړه، کابل ونيسي نو دغه نجوني خپلي ميځياني بولي او د کنړ د ښځو په څير به يی د پاکستان په قبايلي سيمو کي او يا پر خپلو عربي بادارانو باندي خرڅوي. په داسي حال کي چي زه او زما په شان ډير نور بې زړه افغانان په کابل کي د روسي ټانکونو او پوځونو پر ضد د خپلو د غو ښايستو او پر ناموس،عفت او عصمت مينو لوڼو او خويندو د قهرمانانه مارشونو شاهدان وو. هغوی په پوره زړه ورتوب او د افغانيت په جذبه د توپکو ګوليو ته سينې سپر کړې. هغوی پر ناموس باندي خپل سرونه قرباني کړل او موږ به سبا، خدای مه کړه، د سر په سترګو ګورو چي د هغوی ناموس به د مجاهدينو په لاس لوټيږي.

اوس زما خبره هغو افغانانو ته متوجه ده چي د مجاهدينو له تنظيمونو سره ايړيکي نه لري او له پاکستان څخه دباندي ژوندی کوي. سړی نه پوهيږي چی د دغو افغانانو سره هم هيڅکله دا سوال مطرح سوی نه دی چی په افغانستان کي د وروستيو تحولاتو او جنګونو د پيل راهيسی څه کم څوارلس کاله تير سوي دي خو د افغانانو په دريځ کي هيڅ تغير نه راځي. په داسي حال کي چي په دغو کلونو کي څو عمده مرحلې راغلي دي. چي لومړی د خلقيانو د رژيم د وحشت او بيځايه اجتماعي او ځمکني اصلاحاتو دوره او د هغې په مقابل کي مقاومت او جهاد وو. دوهمه يې له افغانستان څخه د روسي قواوو د وتلو او په نړئ کي د کمونيزم د سقوط او دريمه يی پخپله په افغانستان کي له کمونيستې پروګرامونو څخه د کابل د حکومت د لاس اخيستلو او سولي ته د حاضريدلو مرحله ده.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

خو د افغانانو دريځونه لکه د ملا نصرالدين عمر پر خپل حال پاته دی او د ميره د خبري په څير هيڅ تغير نه پکښي راځي. چا چي په لومړی ورځ ويلي دي چي د کابل له کمونيستي رژيم سره خبري نه کوي، چي هر څه تحولات راغلي دي دوی په خپل دريځ کي هيڅ بدلون نه دی منلی. چا چي په لومړی ورځ د لويي جرګي ږغ پورته کړی دی، چي بله هره طرح ورته وړاندي سي ، دوی وايي چي لويه جرګه جوړه نه سي به بل هيڅ صورت د خلکو دردونه دوا کيدلای نه سي. چاچي د ظاهرشاه د بيرته پاچا کولو پيشنهاد کړی دی، چی حتی پخپله هغه غريب په سرو سترګو ورته ژړلي دي چي د خدای پار دی زه افغانستان نه سم سمبالولای دوی د هغه پر خبره غوږ نه نيسي او وايی دغه يوازينی لاره ده او چي تر څو پوري ظاهرشاه مړ سوی نه وي دوی په بلي لاري پسي کتلای نه سي.

په داسي حال کي چي په نړۍ کي د ګوندونو او ډلو دريځونه د شرايطو له تغير سره تحول کوي. او اوس چي د کابل حکومت کمونيزم او چپی اصلاحات رد کړي دي نو زموږ دريځ او د هغه سره سلوک بايد چي يو څه تغير وکړي. او کله چي د مجاهدينو د ځينو لويو مشرانو او لويو قومانداناتو جنايتونه وينو نو بايد چي تر ابده پوري خاموش پاته نه سو. هغوی به د ګران افغانستان ښارونه چوروي او موږ به يی لا هم مجاهدينو محترم مشران او قوماندانان بولو. هغوی به د خپلو پښتنو ورونو ښځي بې عزته کوي او موږ به لا هم د وطن د سرنوشت په ټاکلو کي د لومړي توب حق ورکوو. هغوی به پرښارونو باندي راکټونه اوروي او زموږ بيګناه ورونه به وژني، د هغوی بې اتفاقي او د قدرت د نيولو پر سر جنګونه او د کابل د تخت د نيولو خوبونه به د جنګ او وينو تويدلو د دوام سبب کيږي او موږ به نور هم د هغوی د سر دعا کوو او د هيواد د ننګ او ناموس ساتندويان به يی بولو؟

خبري اوس تر بل هر وخت خطرناک حالت ته رسيدلي دي. په افغانستان کي اوس د کفر او اسلام په نوم جګړه ختمه سوې ده. اوس يوې خواته د قدرت د نيولو پرسر د مبارزې په لاره کي بيګناه خلک قرباني کيږي او د هيواد د هر ګوټ خلک د کابل د بيګناه ښاريانو په سرنوشت اخته کيږي او بلي خواته د قومونو او مليتونو په نوم مبارزه او جګړه روانه ده. اوس د افغانستان د تجزيې او ټوټه کيدلو د پاره کار روان دی. د افغانستان له شمالي سيمو څخه ډيري بدي آوازې را رسيږي، او دا د نن آوازې سبا ته د ريشتيا خبري دي. په هغو سيمو کي له افغانستان څخه د تاجکو او اوزبکو د علاقو د بيلولو او جلا هيوادونو د جوړولو شعارونه ورکول کيږي. خو زموږ عالمان، منورين، صاحب نظران او سياسيون يا په خوب ويده دي او يا يې ځانونه قصدا پر خوب اچولي دي. دا د خطر زنګونه څو څو ځلي وهل سوي دي خو له بده مرغه چي يا د خلکو غوږونه کاڼه دي او يا د غريب ملا آذان څوک نه اوري. د لاتين امريکا، افريقا، اسيا او اروپا په تقريبا ټولو هيوادونو کي دښمني ډلي خبرو ته سره کښينستلي او وسلې يې پر مځکه کښيښودلي خو زموږ هغه يوه خبره ده. چي تر څو مو د کابل حکومت د قوې په زور چپه کړی نه وي له جنګ څخه لاس نه اخلو. په داسي حال کي موږ د خپل دغه تصميم او سرټمبه ګی په برخه کي هيڅ وخت د افغانستان له خلکو څخه پوښتنه نه ده کړې. د افغانستان له خلکو سره اوس دا سوال مطرح نه دی چي څوک د قدرت واګي په لاس کي لري بلکه سوال دا دی چي دغه ځوارلس کلني ډزي بالاخره پای لري کنه. لوی او واړه ښارونه، کلي او باندې يوه ورځ د ګوليو د دغه ظالم او ږانده باران څخه خلاصيدلای سي کنه. زما په عقيده د قوې په زور د کابل سقوط د مشکلاتو او ستونزو پای نه دی بلکه د داسي غم لړلو پيښو پيل دی چي د خلکو څخه به د تيرو ځوارلسو کالو ټول ترخه خاطرات هير کړي.

يو ځل بيا په زغرده وايم چي د کابل قهري سقوط د پرديو، او يا په ښکاره ووايم د پاکستان د واکدارانو، پلان دی. اوس حاضر د پاکستان د واکدارانو له اجازې پرته هيڅوک اود مجاهدينو هيڅ مشراو قوماندان پر کابل باندي، او هغه هم به دغو حساسو شرايطو کي ګولۍ او راکټونه نه سي اورولای. او که يی چيري وار کړي نو بيا به يی بنګلې په پيښور، حيات آباد او اسلام آباد کي نه وي او کوم بل چيرته به په کور پسي ګرځي. پاکستان په ظاهره د سولي چيغي وهي خو هيڅ وخت به خپل هغه وفادار نوکران چی د دوی د ګټو د خوندي کولو لپاره يی خپل هيواد هير کړی او پر خپل کور او کلي يې اور بل کړی دی هير نه کړي. يوموټی، خپلواک، باثباته او سمسور افغانستان د باکستان د اوږدې مودې ګټو لپاره بې اندازې خطرناک دی. او دا چي نن پاکستان د سولي چيغي وهي هغه فقط د خارجي قوتونو فشار دی او بس، او د پاکستان مقامات په دې پوهيدلي دي چي خارجيان او غربيان تر نامعلومي او يا ښې زياتي مودې پوري غولولای سي. په دې کي هيڅ شک نسته چي پاکستان په منځنی اسيا، يعني د پخواني شوروي اتحاد په ازادو سويو جمهوريتونو کي ډيری زياتي ګټي لري او دا ګټي يی هغه وخت ښې خوندي کيدلای سي چي په افغانستان کي سوله او کراري وي. خو پاکستان هيڅ وخت داسي سوله نه غواړي چي هغه دي په افغانستان کي د ده خپلي باداری او مشری ته خطر پيښ کړي. بلکه بيا هم غواړي چي د اينده افغانستان د قدرت واګي د داسي چا په لاس کي وي چي که د تل لپاره نه وي نو د يو څه وخت لپاره خو د پاکستان ګټي خوندي کړای سي او پاکستان د وران ويجاړ افغانستان د بيرته ابادولو په نوم تر هغه زياتي ګټي تر لاسه کړي چي په ورانولو کی يی تر لاسه کړي دي.

يو ځل بيا وايم چي د کابل د قهري سقوط په نتيجه کي به په افغانستان کي داسي اغتشاش او ښورښونه پيل سي چي کرارول به يی نه د روس او نه د امريکا په وس پوره وي. د کابل له قهري سقوط سره په افغانستان کي داسي داخلي جنګ او ويني تويېدل پيل کيږي چي د افغانستان په تاريخ کي يی ساری نه دی ليده سوی. دا داخلي جنګ د هيچا په ګټه نه دی او زه فکر نه کوم چی هيڅ ګاونډی هيواد به دغه راز جنګ غواړي. خو که چيري جنګ دوام وکړي نو بيا دا داسي يو حالت دی چی هيڅوک يی د منځته راتللو مخه هم نه سي نيولای. د دې اغتشاش او داخلي جنګونو په نتيجه کي

---



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د افغانستان تجزیه حتمي ده او دا لا هم پسي زیاتوم چي مخکي له هغه چي هر قوم په خپله سیمه کي د آرامی او کراری مړی په خوله کوي، دې جنګ به په میلیونو انسانان ګورته لیږلي وي.

د دغه راز یوه حالت مخنیوی نه د روسیې او نه د امریکا کار دی او نه یی پاکستان مخ نیول غواړي. دا یوازي د افغانانو کار دی. په دې لاره کی لومړی ګام په خپلو دریځونو کي تغیر راوستل دي. چي تر څو مو د پیښور سر ټمبه مشران او قوماندانان تجرید کړي نه ویو، چي تر څو مو بې اتفاقیو او د قدرت پر سر مبارزې او د کورني جنګ اوږدولو ته خیانت نه وي ویلی، چي تر څو مو د کابل پر بیګناه خلکو باندي د راکټونو باران جنایت نه وي بللی ، افغانستان ته هر ډول ناوړه حالت راتلونکی او ممکن دی. که چیري داسي یو ناوړه حالت راځي، په هغه صورت کي نو د مسولیت قبولول او یا ردول کومه ګټه نه لري. زه وایم اوس هم وخت لرو چی لومړی ګام پورته کړو او کله چي مو دغه تریخ غوړپ وکړ او لومړی ګام مو پورته کړ هلته بیا دوهم، دریم او وروستي ګام د پورته کوړلو لپاره لاره هواریږي. افغانستان لا اوس هم د نړۍ په نقشه کي موجود دی. راسی د ګران افغانستان د نجات په منظور دغه لومړی ګام پورته کړو.

نور د دې وخت تیر دی چی بیا هم په پاکستان او ایران کي د دیره مشرانو ترمنځ وحدت ته منتظر سو او د هغوی څخه د کوم ملي اقدام انتظار ولرو. دې مشرانو چي د سرو لښکرو په شان قوي او خطرناک دښمن په مقابل کي یو متحد صف جوړ نه کړ نور به یې هیڅوک پر یوه لاره روان ویني.

دوستانو! یو ځل بیا وایم چي فرصت له لاسه وزي. دغه ګړی تر هر څه معقول کار دا دی چی د ملګرو ملتونو د پلان ملاتړ وکړو. د ملګرو ملتونو د استازي بین سیوان د سولي د فعالیتونو حمایه وکړو. هیڅ چاته باید منتظرنه سو. هغه څوک چي د خبرو په میدان کي لازم دي او اغیزه در لودلای سي، باید له ګریوانه یې ونیسو، د خبرو میدان ته یی را کش کړو او هغه څوک چي خبرو ته نه حاضریږی له کوره یی وشړو. دا د منطق حکم دی چي سوله او د سولي خبري له هغه چا سره کیږي چي جنګ ورسره روان وي. د چا سره چي جنګ نه لرو له هغه سره د سولي د کولو سوال نه پیدا کیږي. که موږ کابل په زور او اسانه، او په لږو تلفاتو نیولای سو نو ریشتیا هم چي بیا نجیب ته امتیاز ورکول خیانت دی. او که چیري دغه زور را سره نه وي نو بیا د خبرو ردول سرټمبه ګي ده.

لا هم افغانستان نه دی تجزیه سوی. لا هم کور په کور جنګ نه دی پیل سوی. لا هم وخت او فرصت لرو. او دا په یقین سره ویلای سم چی تر دې خرابه وضع او شرایط د هیچا په ګټه نه دي. او هغه داسي حالت دی چی د هیچا سر له توري او کور له اوره نه سي خلاصیدلای.

۱۹۹۱ اکتوبر واشنګټن


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ